لیکونکی : ګلن فورډ(Glen Ford) .
منبع او دخپریدو نیټه: ( انفارمیشن کلیرنګ هوز ۲۰۱۴-۸-۱۴).
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .
-------------------------------------------------------------

# امپراتوری د جها د یا نو بربوکی (ګرد با د) وریبل

The Empire Reaps The Jihadist Whirlwind

«دپنتاګون داستاذیتوب ستونزی په بړاس واغوښتل»

“The Problem is the Pentagon’s proxies are Evaporating

*په عراق اوسوریه کی داسلامی خلافت هسکید ل «ظهور» له بده مرغه کوم چی په منطقه کی دامریکی دمتحده ایالاتو دنیا بتی جګړی دپاره یوه لاس لیک شوی نسخه وه له چلشه وغورځیدل او په پا یله کی داسی بریښی چی ممکن دنفت خیزو سلطنتی هیوادونو بقا کوم چی په نړی کی دامریکی دمتحده ایالاتو دهڅمونی دپاره ضرور ګڼل کیدل هم له خپل مخکینی پلان شوی مسیر څخه واوړي .د یادونی وړ مطلب دادی چی دامپریالیزم دغه نیابتی ستراتیژی حتی دپلی سرتیرو په سطح اولیول ونه رسیدل اواوس په بشپړه توګه درانسکورید و اود تیت وبیت کیدو په درشل کی ( تل دلندی مودی ) لاس او پښی وهی او دسوری ددولت هغه سنی مذهب مینځګړی اپوزیسیون چی په عراق کی دامریکی دمتحده ایالات په مالی مرسته سر رااوچت کړ اوس ټول د اسلامی خلافت معماران دی چی له عراق څخه په تیښته کی دی .*

*دامریکی دمتحده ایالاتو دجمهور ریس ښاغلی بارک اوباما له خوا دسوری دخلافت دحیرانونکی نظامی سیاسی بریالیتوبونو دپاره کوم چی د هغه طرح اوپلان د واشګتن دجنګی ماهرانو له طرفه تدوین شوی وه د (۵۰۰) میلیونو دالرو غوښتنه وه چی باید په مصرف ورسیږی ،حال داچی دغه مقدار پیسی ونشو کړلی چی د مخکینی غوره شوی پلان پربنیا د حتی یوخیا لی پوځ هم رامینځته شی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دکتو دتامین دپا ره وجنګیږی ، لکه هغسی کوم چی دسوری ډیر فعال شورشیان سره په یوه لویه غونډه کی را ټول شو اودیو اسلامی دولت دمینځ راتلو اعلام وکړل هغو کوم چی مخکی دعراق اودسوریی داسلامی دولت دجوړیدو د پاره ملا تړلی وه اود هغو رهبر ښاغلی*

ابوبکر بغدادی واشنګټن ته به یوه خپره شوی اعلامیه کی داسی یادونه وکړ «تاسي اوس باید ځان پوه کړئ او هغه داچي تاسي کوم چي دنړی دسراسری برخو د دفاع ضامن ځان بولی ، اوپه دی لته کی یاستی چي په نړی کی دتاسو په نیابت دتاسو دګټو دتامین دپاره نورو تاسوته وجنګیږی ، نو زه اوس داسی تاسو ته په ډاګه کوم چي دتاسو ددی غوښتني دپاره نه څوک په سوریه کی اونه هم څوک په عراق کی به و جنګیږی ».

دابوبکر ال بغدادی وروستی لنډ اخطاریه وینا د متحده ایالاتو د شرکتونو دجمعی رسنیو دحیرانتیا موجبات را پارولی دی کوم چي هغه پخپل وینا کی داسی یادونه کړی : « که دخدای رضا وی لیری نه ښکاری اوبلکل کاپی دی چي تاسی به دمجبوریت له مخی مخامخ او په مستقیم بڼی سره په مخالفت کی ونه ولویږی ؟ اودهمدی مسالی دپاره داسلام بچیان دهمدی ورځی دپاره ځان چمتو کړی دی پس نو تاسی باید دهغی ورځی انتظار وباسیی لکه همغسی چي مونږ دهغی ورځی په انتظارکی یاستو » دابوبکر دغه یادونه د ډیرو امریکایانو دپاره دتشوش او د واسواس موجبا ت برابرکړی اود هغوله نظره دا پخپله پر امریکی باندی دیرغل یومستقیم ګواښ دی سره دهغه چي دابوبکر دیرغل په نقشه کی منهاټن( Manhatten) شامل نه دی ، دال بغدادی په خبرو کی اصلی موضوع او مطلب دادی چي دامریکی متحده ایالات له هغه ځایه چي دخپل ستراتژیکی اهدافو د سرته رسولو د پاره مسلمانان د ګوډاګی او د لاس ناستی په بڼه دخپل امپریالیستی له کاره ولویدلی جګړی دپاره په ما لی مرستو سره استخداموی لیری نه ښکاری اوهغه داچي پنتاګون پخبله به ددغه کرغیړن عمل دسرته رسولو دپاره دجګړی صلیبی جامی وانغوندي.

نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره دامریکی متحده ایالات دعراق شمال ته خپل په سلونو تنو اضافی د (غیر جنګی ) سرتیرو تر نامه چي ممکن دامریکی دمتحده ایالات دسمندری قوتونو اویا دهغه دځانګړی یرغل وړونکو قوتونو اویا هر څه چي دی ولیږل چي هلته دامریکی د متحده ایالاتو د میشتو (۱۰۰۰) تنو سرتیرو سره یوځای شی اوپه هغه ساحه کی دامریکایانو درسمی عادی میشتو پرسونل امنیت وسا تی اما برخلاف دامریکی دمتحده ایالاتو کین اړخو په دی باور دی چي دامریکی دمتحده ایالاتومسول مقامات داسی پروګرام لری چي عربی هیوادونو ته له هغه وخته چي دوی هلته حضوردرلود نور خپل

سرتیری یا خپل نظامی جزوتا مونه ونه لیږی (کوردان خو عرب نه دی ) اوداځکه چی اوس هلته په معکوس بڼی سره افراطی ډلی تپلی زیات شوی دی، اصلی ستونزه خودادی چی د پنتاګون د نیابتی جګړی طرح دړی وړی شو او هغسی چی وړاند وینه شوی وه پا یلی ته ونه رسید بلکه اوس په عرب اوپه عراق کی ایران پوری تړلی قوتونه د پرمختګ په حال کی دی اوروسانو تعهد سپارلی چی دعراق هوای قوتونه له سره بیا باسازی اوژوندی کړی .

له بلی خوا څخه هسی چی معلومیږی داسلامی خلیفه یعنی دابوبکر په نقشه کی دښار په مینخ یعنی پر مانهاټن(Manhatten) باندی دیرغل نشی نښانی نه لیدل کیږی .

هغه څه چی باید دلته په پام کی وساتل شی هغه دادی چی دلته اوس په امریکا کی دامریکی دمتحده ایالاتوځنی کیڼ اړخ سیاستوالو داسی انګیری چی دعراق لمړی وزیر ښاغلی نورالمالکی دادامریکی دمتحده ایالاتوډیرپخوانی لاس پوڅی په تلپاتی ورکیدواو له مقام څخه په را پریوتوسره دامریکی دمتحده ایالاتو دپاره دځنی بریالیتوبونو چا نس تر لاسه کیدای شی ، مګر دا باید هم له نظره ونه غورځول شی اوهغه داچی دنورالمالکی سقوط اوله خپل مقام څخه لیری کیدل دایران ، په عراق کی د حضرت آیت الله العظما علی ال حسینی ال سیستا نی ( هغه کس کوم چی په میلیونونو خلک دامریکی دمتحده ایالاتو داشغال د پای ته رسیدو په وړاندی راوهڅول ) مقتدا صدر (هغه کس چی دعراق د ملشا یی قوتونو په سرکی دامریکی دمتحد ایالاتو داشغال په وړاندی دوه ځلی دامریکی داشغالګرو قوتونو اودهغه دلاس ناستی رژیم په مقابل کی وجنګید ) او حتی دنورالمالکی دحزب الدعودځنوغړو له خواملاتړ وشول ، دلته یواځی کردان واشنګټن (اواسرایل ) ته پاتی شو او دغه موضوع له حده زیا ت به په ډیر آسانی سره دکردستان دشاوخوا په ګاونډیانو کی به ستر تغیرات رامینځته کړی ځما مقصد دکردستان له ګاونډیانو څخه سعودی عرب ، قطر، امارات ، ترکیه اوداردن له شاهی هیواد څخه دی، کوم چی د جون په ورستیو کی د اسلامی خلیفه البغدادی له خوا دهغه هیوادونو پانګوالوته یوه پیغام واستول اودهغو څخه دمالی مرستوغوښتنه کړی وه ، په هرصورت دلته هغه څه چی باید یادشی هغه دادی چی کله د اسلامی دولت په زرونو سرتیرو هغوی کوم چی دشبهه جزیره سعودی عرب په وهابی ، افراطی نظریاتو باندی سمبال دی نو کله چی دغه

پورتنی ذکر شو ی هیوادونو ته ورسیږی ایا په دی هیوادونو کی په قانونی لحاظ سره نها دونه ، دولتونه، امارات ، گروپونه او نور سا زمانونه به په قدرت کی پاتې شی ؟ ایا دلته داسلام دخلیفه داوتوریتی په پلی کولو کی د څو مودی دپاره دقدرت خلا به میځنته نه راځی ؟

دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره ښاغلی پاتریک کوکبرن( Patrick Cockburn) دخپل نوی کتاب غورچانې دکونتر پنچ په ویب پا ڼه کی داسی بیان کړی دی : په عراق وسوریه کی داسلامی دولت اودخلافت رامینځته کیدل « امریکا ، بریتانیا اوغربی قوتونو ته په نهایت امرکی بی له یو فاجعه بل شی نه په لاس ورکوی».

داهم باید په ډاګه شی اوهغه داچی دخلافت ګرنګیدونکی بریالیتوبونه په عراق – سوریه اود سعودی عرب کی د سنی مذهب جمیعت څخه لا لیری سیاسیی مشروعیت کوم چی دهغه ستنی د دغه هیوادونو پر حاکمیت با ندی ولاړ دی اودهمدی سیا ست په اتکا سره د مکی – مدینی مقد س ځا یونه دمنطقی زوړ مخکینی دین او مذهب ساتل کیږی له مینځه ځی کوم چی دا موضوع باید بی اهمیته تلقی نشی .

اما دعربستان سعودی سلطنتی کورنی لکه دمنطقی د نورو باقی مورثی پاچاهانو په څیر په فسق اوپه فساد کی دپانګی اوډثروت په لرلو سره غرق او ککړ دی اوهم سعودیان ( کوم چی دقطریانو دوژونکی فسق اوفساد څخه څه کمی نه لری ) دشیعه ګانواودسکولریانو پرضدباندی جهادی اندیشنی اوجهادیان صادروی اودا ددی دپاره که وشی کړی چی دلته دهیواد په دننه کی دسکولر اود شیعه مذهبو داندیښنو څخه مخنیوی وکړی، اما دخلافت پیروان کوم چی په منطقی لحاظ سره دهغوی ایدیولوژی هراړخیزه ډیر مخوف اوبوږنونکی دی اودهمدی نظر په لرلو سره خپل ډیر مخکینی سرسخت او ثا بت قدم (صلیبی جګړه مارو ته ) دمسابقی چلند ورکوی چی داپخپله ډیر نا وړی عواقب لری چی نه باید له پامه وغورځول شی .

کوکرن دا مساله په دی شکل سره داسی افاده کوی :

( دروانوحالاتو دتحلیل له مخی د« القاعدی په څیر دیو لړ ګروپونو یا د ډلو ټپلو بیا له سره ژوندی کیدل اویا له سره په بوشمیر فعالیتونوسره لاس پوری کول سوریه عراق اود هغو نژدی ګاوندیانو ته د چندان ډیرشد ید ګواښ نښی

اونښانی نه تر سترګو کیږی یادهغه وړاندیز ستونزمن دی چی اتکل شی ،
مګر هغه څه چی ممکن په دی هیوادونو کی راپیښ شی هغه په متبارز
اوپه حال دودی په ترکیبی بڼی سره د وهابیت انحصاری ډول اعتقادات
اوباورونه وی چی دنړی په ټول سنی مذهب ټولنو کی به خپل ریښی وځغلوی
اودا په دی مفهوم چی دنړی (۱،۶) میلیون مسلمانا ن چی د نړی د مجموعی
نفوس (۴/۱) برخه تشکیلوی هرومرو به ددی ډول بارونو له تاثیراتو څخه به
بی برخی پا تی نشی یواځی هغه ډله مسلمانان چی په غربی هیوادونوکی
میشته دی ممکن له دغه درګیری اواعتقادی اختلافاتو څخه به خوندی پا تی
شی ، جها دګرایی اوافراطیت چی نن په عراق اوسوریه کی دهغه دودی
اودپرمختک زمینه چمتو شوی دی ، نن دهغه سیاسی اغیزی په ټول نړی کی
خپل لمن پراخه کړی چی مونږ به هم دهغه دجانبی وخیم تاثیراتو څخه به په
امان کی پاتی نشو ).

ټول (۱،۶) بیلیون مسلمانان چی دنړی دټول نفوس (۱/۴) برخه تشکیلوی په
پراخه پیمانی سره ممکن بریښی چی دهمدی باوری اختلافاتو په لومه کی به
راګیر شی اویا داچی دهمدی ډول اعتقاداتو تر تاثیر لاندی راشي .

په هرصورت ددی غورځنګ نتیجه او دهغه عواقب البته چی هغوټولو
مسلمانانو ( نه یواځي محدود په اهل تشیع ) ته اوبیا په ځانګړی بڼي اقلیتونو
اود سکولار پیروانوته به ډیر خطرناک او بوږنونکی وی خصوصاً کله چی
ددی وهابی معتقد ینویا ددی افراطی مسلمانانو له خوا وخت ناوخت پرهغو
(اقلیتونو او سکولرو مسلمانونو) باندی به دکفر اودارتداد حکم اوفتوا صادرشی
دلته یوشی چی ډیر دپام وړ بریښی هغه دادی چی دسلفیانو بچیان کورته دشپی
تیرولو دپاره بیرته سعودی شبهه جزیری ته را ګرځی او په همدی دلیل دی
چی دسعودی عرب چارواکی په ډیر عصابانیت او دلیونیانو په شان ډیر بی
اندازه په هڅه اواند کی دی چی دجهاد جن (Gen) بیرته بوتل کی واچوی
کوکرن داسی لیکی : دسعودی مقاماتو ډار په دی کی دی چی هغوی ددی
جهادی افراطی ډلو ټپلو په ایجاد او مینځ راتلو کی ډیر ستر کمکونه ترسره
کړی او اوس په دوه لاره کی پروت دی چی څرنګه کولای شی چی ددی
افراطی دواطلب جهادیانو مخه ونیسی چی عراق اوسوری ته لاړ نشی اویا
څرنګه کولای شی چی خپل پالیسی ته تغیر جهت ورکړی ، نو په هرصورت

اوس ډیر ناوخت دی چی په دی مورد کی سعودی مقامات یو قاطع پریکړی وکړی .
اوس په ریښتیا سره دامریکی متحده ایالاتو ته ډیر ګران اوستونزمن دی چی وشی کړلی دنړی دمسلمانانو په اړه دخپل خارجی سیاست یومهم عنصر یعنی دامریکی دپاره نیابتی جګړی پالیسی ته دخلاصون لاره اواره کړی ،اویا پخپل خارجی پالیسی کی بیا په دی مورد کی بد لون راوړی ، اوځکه چی دا د وروستیی اویاوم لسیزی څخه کله چی «سی آی ای» ، سعودی عرب اوپاکستان په ګډه سره نړیوال جهادی شبکه رامینځته کړل چی په افغانستان کی دشوروی قوتونو پرضد وجنګیږی ډیر اوږد اوډیر خونړی سپرلی یا مزل وهل دی ، اوس تجربه وښودل چی امریکایانو په اسلامی هیوادونو کی هغه پیاده نظام سرتیری چی دخپل نیابتی جګړی دپاره وروزل اوس دامپرایلزم پر ضد جنګیږی یعنی امریکایانو بخپله دخپل ضد دپاره په اسلامی هیوادونو کی جهادیان او افراطیان اویا پیاده نظام سرتیری را مینځته کړ کوم چی د هغو مهار کول اوس چندان آسان هم نه دی .
په کال (۲۰۱۱) په تونس اومصرکی دهمدغه جهادیانودنجات دپاره وروسته دخلکو دهغه زورو اومشهور وګړنی پاڅون څخه کوم چی دامپریالیزم پوری دتړلړ ګروپونو دوحشت اود ډارسبب شوی وه ،دامریکی متحده ایالات اودهغه سره متحد دناتو پکټ په لیبیا کی دجهادی جګړه مارو ډلو ټپلو په مرسته کوم چی دهغه مصارف د عرب دتیلو دسلطان له طرفه تمویل کیدل ودانګیدل اوپه یوډیر ظالمانه اوشدید هوایی یرغل باندی لاس پوری کړ چی حتی نړیوالو ته هم شوک اور وه اما کله چی جګړه ختم شو او په لیبیا کی رژیم بدل شو ، همدغه جهادیان یا دلیبیا همدغه جګړه مارو بیرته د خپل سلفی ملګرو سره په سوریه کی د وحشګیری په کړنو سره یولاس کړل کوم چی اوس په ګډه سره همدغه وحشیګری کړه وړه ته دوام ورکوی .
په هرصورت نن ګورو چی لیبیا کی مطلق اړدوړ اوهرج مرج روان دی ، داسد حکومت په سوریه کی لا تراوسه مسبوط ولاړ دی ، خلیفه خپل استقلال او آزادی له عربی نړی اوله خپل تعمیدی مور څخه اعلام وکړ لکه هغسی چی مونږ دری کاله دمخه په بار (دمشروباتو دڅښلو ځای ) کی ددی موضوع وړاندیز کړی وه .

امپریالیزم دغه بی بند وبار طاعون ته اجازه ورکړی چی زر یا وروسته پر نړی باندی یرغل وکړی هغه یعنی امپریالزم ، پاچاها نوُ امیرانو اود امریکی پوری تړلی کسانو کوم چی دامبریالیزم د تیلو دسا تلو دندی ترسره کوی ، له یوسره تول په مصرف کی نیولی دی نو په دی لحاظ د امپریالیستی اقتدار دنزول سرعت ډیر په چټکتیا سره مخ په وړاندی روان دی .

------------------------------------------ په درناوی